ولي الله ملکزی ۲۰۲۳/۱۲/۲۸

# استانبول؛ د دوو امپراتوريو د عروج او زوال سمبول

لوړ ماسپښين دی او په کاسو کاسو باران وريږي. چا پلاستيکي بالاپوشونه اغوستي او ځينو برګي او توري چترۍ په سرونو نيولې دي؛ خو بيا هم ښه ګڼه ګونه ده او خلک بې خاره قدم وهي. د مرمرې د سمندرګي له اروپايي ساحل څخه د آسيايي څنډې د دنګو ودانيو رنګارنګ ګروپونه تت تت ځليږي او د سيګل ښايستوکي مرغۍ د مالګينو اوبو خاموشه څپې څاري. د اوو غونډيو په څوکو او لمنو کې پروت د ۱۶ مليونه نفوسو په درلودلو سره، استانبول د اروپا لومړني او د نړۍ پنځلسم لوی ښار دی. ۵,۷۱۲ کيلو متره مربع مساحت لري او د ترکيې د ټول نفوس ۱۹سلنه خلک همدلته اوسيږي. استانبول ۵۸ پوهنتونونه لري چې ۱۴ يې دولتي او پاتې يې خصوصي او وقف دي. په دې ښار کې ۳۶۷۰ جوماتونه، ۱۵۸ کليسا ګانې او د يهودانو لپاره ۱۷ سنيګاګ (کنيسې) آبادې دي.

د دې ښار بنسټ له ميلاد څخه اوه پيړۍ وړاندې د يونانيانو له خوا کيښودل شوی او بيا د کوروش کبير د تاړاک په مهال سم دم کنډواله شويدی. په ۳۳۵ ميلادی کال کې د بيزنطيني امپراتورۍ (ختيز روم) ستر تولواک، قسطنطين د خپلې واکمنۍ پلازمينه اعلان کړ او د قسطنطينه نوم يې ورباندې کيښود چې د را روانو لسو پيړيو لپاره د روميانو د راج او باج ټاټوبې وو. نوموړي د ايټاليا د واتيکان په مقابل کې، د ارتودکسو لپاره د آيا صوفيا مشهوره کليسا جوړه کړه او چې ومړ نو په څنګ کې يې ښخ کړل شـو. کله چې سـلطان محمد الفاتح په ۱۴۵۳م کې بيزنطيني واکمني تس نس کړه او د قسـطنطنيې ښـار يې ورڅخه ونيولو؛ نو د إسـلام بول نوم يې ورله غوره کړ، بيا د هغه وارثانو ورباندې آستانه او وروسته د استانبول کيښود او دغه کليسا يې په جامع جومات بدله کړه.

د عثماني سلطنت له راپرزيدو يو کال وروسته، يعنې په ۱۹۲۳م کال کې د مصطفی کمال اتاترک له خوا د ترکيې پلازمينه له استانبول څخه د انقرې ولايت ته وليږدول شوه، ولې د دې ښار اقتصادي او کلتوري لمن د هرې ورځې په تيريدو سره لا زياته پراخه او د سياحت او توريزم په يو ستر مرکز باندې بدل شـو. د همدې ډيسمبر په يولسم تاريخ، د کلتور او سياحت وزرات وويل: سږ کال ۵۳ مليونه سيالانيانو له ترکيې څخه ليدنه کړې، ۴۶ مليارده ډالر يې مصـرف کړی او د دې شـميرې نيم په نيمه تورسـتان اسـتنبول ته راغلي دي. اسـتانبول د ترکيې د ۸۱ ولايتونو څخه يو ولايت دی او ۳۹ ولسوالۍ لري. د دې ښار د نفوسو ۶۵ سلنه په اروپايي برخې کې او پاتې ۳۵ سلنه يې په آسـيايي خوا کې اوسـيږي چې دريو پلونو او د اوبو لاندې يو تونل سـره نښـلـولي دي. د اسـتانبول اوسـنی ښـاروال د جمهوريت پالو د ګوند مخکښ غړی، اکرم امام أغلو دی.

د استانبول نوی نړيوال هوايي ډګر (IST چې مساحت يې ۷۶ مليون متر مربع ته رسي د نړۍ په کچه دوهم لوی ميدان دی. په ۲۰۱۸م کې يې د لومړۍ برخې پرانيسته وشوه؛ د ۹۰ مليونه مسافرو ظرفيت لري او په ۲۰۲۸م کې به يې څلورمه برخه کار هم بشپړ شـي چې هرکال به د ۲۰۰ مليونه مسـافرو د تګ راتګ جوګه شـي. دغه مهال به هره ورځ، ۳۵۰۰ الوتکې ۳۵۰ ډګرونو ته الوتنې کوي. د دې ډګر ټول لګښـت ۲۶ مليارده يورو ته رسـيږي چې د ترکيې ترڅنګ بهرني پانګوال هم په کې غټه ونډه لري. همدا اوس څه باندې يولک تنه مسـلکي او خدماتي پرسـونل په کار بوخت دی او د ۴۰ زرو موټرو د درولو / پارکنګ وړتيا لري.

له بله پلوه، ترکی ډرامې اوس له امريکا او جنوبي کوريا وروسـتـه، په نړۍ کې دريم مقام لري چې مرکز يې همدا اسـتانبول دی او هرکال په منځنۍ ډول ۱۵۰ ټلويزيوني ډرامې جوړيږي. دلته جوړه شـوې د ارطغرل ډرامه په ۲۵ ژبو ژباړل شـوې او په ۷۱ هيوادونو کې څه باندې دري مليارده خلکو کتلې ده. په اسـتانبول کې د افغانسـتان ځينې پخوانې جهادي مشـران، د جمهوريت د مهال لوړ رتبه شـخصـيتونه او په اختلاس ککړ او تورن وکيلان د ځينو سياسي محدوديتونو سره همدلته ژوند کوي. کله چې ما د آتاکوئ په سيمې کې د درويشانو د ذکر، رقص او هوکې د شنو لوګو په بنداز کې له يو ترکي ځوان څخه پوښتنه وکړه چې اروپايي تولنه له ترکيې سره ولې ناغيرې کوي او د يوځای کيدو اجازه نه ورکوي؟ نو هغه پرته له ځنده وويل: (افندم! ختيزه اروپا تر پرون پورې کمونسته، مفلسه او د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزي بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

وارسا د نظامي تړون برخه وه، خو ناټو نن پولنډ، چکوسلواکیا او مجارستان په غیږ کې نیولي او مونږ ته اني باني کوي، زمونږ ګناه دا ده چې مونږ مسلمانان یو او هغوئ مسیحیان!).
د مصطفی کمال آتاتورک لخوا د شپږو پیړیو عثماني خلافت د ړنګولو وروسته، د معاصرې ترکیې له نیمي زیاته واکمني د پوځي جنرالانو او یا د هغوئ د وزر لاندې واکمنانو سره وه چې له سیاست سره د مذهب ګډول، غټ جرم وو. خو رجب طیب اردوګان چې په تنکۍ ځواني کې یې د استانبول د بسونو او اورګاډو په سټیشنونو کې چاې او سموسې خرڅولي، په ۱۹۹۴م کال کې د استانبول ښاروال وټاکل شو. د سیاسي اسلام پلویان یې خلیفه بولي، لویدیزه نړۍ یې دیکتاتور او کورني مخالفین ورته د سلطان لقب کاروي. مګر کوټلې خبره دا ده چې اردوګان له اتاتورک وروسته د ترکیې یو غښتلی او کریزماټیک سیاست وال دی. هغه وکولای شول ترکیه له ژور اقتصادي ناورین څخه راوباسي او د نړیوال مالي ګراف په شپاړلسم کتار کې یې ودروي. لس کاله وړاندې د ترکیې بهرني صادارات په کال کې ۲۳ ملیارده وو؛ مګر نن یې د صادراتو کچه له ۱۵۳ ملیاردو ډالرو څخه لوړه ده او د ملي پیداوار کچه یې یو ټریلیون او سل ملیاردو ډالرو ته رسي.
د استانبول مجلل قصرونه، نروچکي مناري، موزیمونه، تاریخي کلا ګاني، خانقاوې، میکدې، د نڅاګانو حجرې او ډول ډول خواړه د بیزنطیني او عثماني امپراتوریو د عروج او زوال د شاهکارونو سمبولونه دي. د قسطنطین کبیر د سترګو په یوې اشارې به له انساني ککریو څلي جوړیدل او د سلیمان قانوني دربار به د کوه قاف له ښاپیرو مالامال او د شمالي افریقا غلامان او اینزې به لاس په نامه ولاړې وې. ښایي له همدې امله فرانسوی امپراتور، ناپلیون بوناپارت ډیر ملامت نه وي چې کله د تور سمندرګي او مرمرې د ساحل په غاړه یې اوتر اوتر یوه خوا بله خوا وکتل او بیا یې د خاطرو په خپل دفتر کې ولیکل: (که زه د ټولې نړۍ امپراتور وای، نو استانبول به حتما زما پلازمینه وه).
-----------------------------------------------------
یادونه: په منني سره، ما په دې لنډې څیړنې کې د Reuters له آژانس، د Daily Sabah له ورځپاڼې، د الجزیرې ټلویزیون، Google او Wikipedia څخه استفاده کړیده. که لوستونکي وخت او علاقه لري، کولای شي د ملکزي نورې لیکنې او څیړنې د هغه په فیسبوک او یوټیوب چینل کې ولولي او وګوري.
ادرس یې دا دی: Wali Malakzay


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ